DAILY ارادهٔ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۶۴۴

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ . ش

لسم کال - دویمه دوره، ٦٤٤ مه ګڼه، پر له پسې ګڼه۱۷۱۲ د ۱۳۸۸ لـ د لیندۍ لومړۍ - د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۰ هـ ق د ذی الحجه ۵ مه د ۲۰۰۹ د نومبر ۲۲ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

ازبکستان به افغانستان برق صادر می کند

شرکت دولتی ازبک انرژی ازبکستان اعلام کرد که تاشکند از اوایل ماه دسمبر سال جاری میلادی صادرات برق به افغانستان را آغاز خواهد کرد. به گزارش خبرگزاری فارس نیوز، این شرکت دولتی ازبک اعلام کرد که پروژهٔ این خط انتقال برق که به مصرف ۹۳ میلیون دالر احداث شده قرار است، اواخر ماه جاری میلادی به پایان برسد. دفتر مطبوعاتی شرکت دولتی "ازبک انرژی " افزود: با راه اندازی این پروژه میزان صادرات نیروی برق ازبکستان به افغانستان افزایش خواهد یافت. بانک انکشاف اسلامی برای احداث این خط انتقال ۴۲ میلیون دالر قرضه در اختیار طرف ازبکی قرار داده است.

زندان پروان؛ برای چیست؟



میرصادقی- امریکاییان اخیرا در نزدیک پایگاه نظامی بگرام، زندان «طلایی» به نام زندان پروان در مساحت ۶۰ جریب زمین و قیمت ۶۰ میلیون دالرساخته اند که در هفتهٔ قبل، بازگشایی شد. این زندان که گفته می شود، گنجایش ۱۱۰۰ زندانی را دارد. از چند بلاک که نمای بیرونی آنها شبیه گاراج های طیارهٔ استف ساخته شده و حاوی دو نوع اتاق یک نفره و بیست نفره می باشد که ترتیباتی در آن مدنظر گرفته شده که گویی زندانیان در تشناب باید زنده گی کنند. اینکه کار این زندان چگونه است، تا حال به کسی جز خود امریکاییان روشن نیست. چون در کنفرانس مطبوعاتی یی که در روز بازگشایی آن گرفته شد و در آن جنرال مارتینز امریکایی، قوماندان این زندان و آقای عدالتخواه معین وزارت عدلیه شرکت کرده بودند، عدالتخواه در جواب سوالی از خبرنگاران به صراحت گفت که او تا دو روز قبل از موجودیت چنین زندانی اطلاع نداشته و لذا جوابی داده نمی تواند. اینکه مجرمان این زندان چه کسانی خواهند بود و به چه اتهامی دستگیر و به این زندان آورده خواهند شد، کسی جز خود امریکاییان نمی دانند. در جریان نمایش زندان ابتداء اتاق هایی نشان داده شد که یک نفری بود و گفته شد که ابتدا زندانی ها را به این اتاق ها می آورند و بعد اتاق دیگری نشان داده شد که متهم باید بیگناهی خود را به اثبات برساند و اینکه این اتهام به وسیلهٔ کدام قاضی اقامه می شود و دوسیهٔ متهم چگونه و به وسیلهٔ کدام خارنوالی نوشته می شود، روشن نشد و امریکاییان می گفتند که این محکمهٔ متهم نیست و اینکه این متهم چه وقت محاکمه خواهد شد و حکم جرم و حدود جزای آن چگونه تعیین و چه وقت رها خواهد گشت، هم روشن نبود. امریکاییان می گفتند که برای مبارزه با تروریزم به حکم جامعهٔ جهانی به افغانستان آمده اند، لذا این حق را برای خود محفوظ دارند که چنین زندانی در اختیار داشته باشند. در بخش ص۳

میلبند: که نړۍ وال ځواکونه نه وي، د کابل حکومت په ساعتونو کې سقوط کوي

د بریتانیا د بهرنیو چارو وزیر ډیویډ میلبند په یوه مرکه کې خبرداری ورکړ، چې له افغانستانه به د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره سم افغان دولت د خپلو وسله والو مخالفانو په لاس په ساعتونو کې وپرځي.

د بریتانیا د باندنیو چارو وزیر وویل، د افغانستان حکومت به ډېر ژر سقوط وکړي که اوس د ناټو ځواکونه له دغه هېواد ووځي. ډیویډ میلبند په لندن کې ګارډین ورځپاڼې ته په مرکې وویل، که چېرې نړۍ وال ځواکونه له افغانستانه ووځي، نو داسې فکر باید وشي، چې په پنځو دقیقو کې، څلور بشت ساعتونو کې یا اوو ورځو کې به مخالف وسله وال افغان ځواکونه لاندې کړي او موږ به بېرته هر څه بیا له صفر پیلوو د بریتانیا د بهرنیو چارو وزیر، چې لندن ته یې له کابله تر ستنیدو وروسته مرکه کوله، دا هم وویل چې افغانان دې ته نه خوشالېږي، چې بل ته محتاجه وي، خو دوی دې ته هم هوسېږي چې موږ هلته یوو، ځکه چې زموږ په نه موجودیت کې به د دوی په هېواد کې نظام ګډوډ شي. د بریتانیا صدراعظم ګوردن براون هم هروخت ټینګار کوي، چې ځواکونه یې د دې لپاره په افغانستان کې دي، چې خپله برېتانیا د تروریستانو له بریدونو وژغوري. ګوردن براون څه باندې دوې اونۍ مخکې وویل، برېتانیا او د هغه ملاتړي باید افغانستان ته شا نه کړي، خو هڅه دې وکړي چې افغان امنیتي ځواکونه وروزي. څو بلاخره امنیتي چارې هغوی ته وسپارل شي. د بریتانیا د بهرنیو چارو وزیر میلبند هم په دې اړه وویل چې تر هغو باید لوېدیځ ځواکونه په افغانستان کې وي، چې د امنیتي چارې بشپړې افغانانو ته وسپارل شي. ۳مخ

طالبانو او حزب اسلامي پر سیاف د چاودنې مسوولیت رد کړ

طالبانو او د دولت مخالفې ډلې حزب اسلامي، په ولسي جرګه کې د کابل د خلکو د استازي عبدالرب رسول سیاف د موټرو پر کاروان د ماین د چاودنې مسوولیت پر غاړه وانخیست.

د اتحاد اسلامي یوه پخواني قوماندان عبدالاحمد ویلي و، چې دغه ځای پر ځای شوی ماین، چې له لرې کنټرولېده، د مازیګر د ۴:۱۵ (د لړم پر ۲۹ مه) شاوخوا د پغمان ولسوالۍ د خواجه مسایر د کلي په مربوطاتو کې وچاودېد، چې له امله یې د سیاف پنځه ساتونکي ووژل شول او د کاروان یو موټر ویجاړ شو. نوموړي وویل چې په دغه برید کې سیاف ته کوم زیان نه دی اوښتی. د طالبانو یوه ویاند ذبیح الله مجاهد وویل، چې په دغه چاودنه کې د دوی کسانو لاس نه درلود. د طالبانو د ویاند د معلوماتو له مخې، د سیاف پر موټرو برید د خپل منځي اختلافاتو له امله، چې د یې لرې، ترسره شوی دی. مجاهد په دې اړه چې سیاف له چا سره مخالفت لري، څه ونه ویل. د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ حزب اسلامي هم، د سیاف د ساتونکیو پر موټر باندې د ماین د چاودنې مسوولیت پر غاړه وانخیست او هغه یې وغانده. د پژواک خبري اژانس د خبر له مخې، د حزب اسلامي ویاند انجنیر هارون زرغون د سیاف پر موټرو برید وغانده او ویې ویل، چې په دغه چاودنه کې د دوی کسانو لاس نه درلود. ۳مخ

افزایش فشار بر افغانستان برای مبارزه با فساد اداری و مالی

انتشار گزارش جدید سازمان بین‌المللی شفافیت که افغانستان را در زمرهٔ فاسدترین کشورهای جهان قرار می‌دهد، فشارها بر دولت جدید این کشور را افزایش داده است.

رابرت گیتس ـ وزیر دفاع امریکا ـ اعلام کرده است که نهادهای بین‌المللی باید با فساد در افغانستان مبارزه کنند و اطمینان یابند که کمک‌های مالی آنها باعث تشویق فساد در این کشور نمی‌شود. وی تصریح کرد: کشورها و نهادهایی که به افغانستان کمک مالی می‌کنند، باید بر قراردادها و پروژه‌های خود در این کشور نظارت بیشتری داشته باشند.

وی گفت: حضور نیروها و شرکت‌های بین المللی در افغانستان، باعث سرازیر شدن مقدار قابل توجه پول به این کشور شده و از همان ابتدای امضای چک، باید مراقب چگونگی خرج شدن این پول بود. رابرت گیتس اضافه کرد، امریکا و دیگر کمک دهنده گان بین‌المللی، هر زمانی که در قراردادها و طرح‌های خود با گروه‌های افغان یا بین‌المللی، نشانه‌یی از فساد مشاهده کردند، باید وارد عمل شوند. وزیر دفاع امریکا این اظهارات را یک روز پس از مراسم تحلیف دومین دورهٔ ریاست جمهوری حامد کرزی مطرح کرد.

این در حالی است که رهبران غربی از کرزی خواسته‌اند، با فساد مقابله کند و در ص۳

زمزمه‌های عقب‌نشینی بریتانیا از افغانستان

درحالی که هرروز فشار افکار عمومی در بریتانیا بر صدراعظم این کشور افزایش می‌یابد،

گوردون براون با درخواست برای میزبانی نشستی بین‌المللی در ابتدای سال آیندهٔ میلادی دربارهٔ افغانستان، از احتمال خروج نظامیان خارجی از این کشور در سال ۲۰۱۰ خبر داد.

وی در حالی که در کشورش تحت فشار شدید افکار عمومی برای خروج نیروهای بریتانیایی از افغانستان قرار دارد، پیشنهاد داده است که لندن در ماه جنوری سال ۲۰۱۰ میزبان این کنفرانس برای بررسی و تصمیم‌گیری درباره آیندهٔ افغانستان باشد.

براون اعلام کرد که از سازمان پیمان ناتو خواسته است، تا جدول زمانی را برای ص۳

رابرټ ګېټس:

موږ به هم د فساد په مخنیوي کې خپله ونډه ادا کړو

امریکا به د خپلو قراردادونو اوټېکو څېړنه وکړي

د امریکا دفاع وزیررابرت ګېټس وایي، چې د امریکا متحد ایالتونه د دې په ځنګ کې، چې د افغانستان له حکومت څخه د فساد د مخنیوي لپاره د هلوځلو غوښتنه کوي، په دې هېواد کې د فساد د مخنیوي لپاره پخپله هم رول لوبوي.

رابرت ګېټس کاناډا ته تللی او په یوه امنیتي کنفرانس کې یې، چې تر ډېره حده افغانستان ته ځانګړی شوی و، ګډون کړی و. هغه دې کنفرانس ته وویل: امریکا به د خپلو قراردادونو اوټېکو څېړنه وکړي. د تاند د رپوټ پر اساس، د ګېټس دا څرګندونې په حقیقت کې د افغان چارواکو او عامو خلکو هغو نیوکو ته ځواب ګڼل کېږي، چې زایي په فساد کې ترافغان چارواکو بهرنیان زیات لاس لري.

هغه وویل د هغو برخو، چې امریکایانو پکې زیاته ونډه لرلې ده، پلټنه به وکړي.

ولسمشرکرزي د لوړې د مراسمو په وینا کې ژمنه وکړه، چې له فساد سره به کلکه مبارزه وکړي، خو په عین حال کې یې غوښتنه وکړه، چې د افغانستان نړۍ وال متحدان دې هم د فساد د هغو مواردو په اړه تحقیقات وکړي، چې بهرنیان ۳مخ



اداري فساد او د چارواکو بې وزلي

۲مخ

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

د ولسمشر نوې دوره، زړې ستونزې او زړې هیلې

پخواني ولسمشر حامد کرزي د افغانستان د نوي ولسمشر په توګه لوړه وکړه. له دې وروسته به د هېواد د هرې ترخې او خوږې مسوولیت بیا هم د ولسمشر کرزي پر غاړه وي. ولسمشر کرزي د خپلې واکمنۍ په تېرو دورو کې له څرنګه چې د افغانانو هیله وه او لکه څرنګه چې ده په خپله له افغانانو سره ژمنه کړې وه، ونه ځلېد. لسمشر کرزي د خپلو تېرو دورو په پیل او ټاکنیزو کمپاینونو په بهیر کې له خلکو سره ژمنه کړې وه، چې په هېواد کې یوه سالمه اداره رامنځته کوي، د زورواکانو له لاسه به ټوپک اخلي، محاکمه کوي به یې او په هېواد کې به ټولیز امن او ټیکاو ټینګوي، خو ډېر په تاسف سره باید ووایو، چې دا هر څه سرچپه وختل. ټوپکسالاران او پخواني جنګي جنایتکاران په واک کې پاتې شول، په هېواد کې اداري فساد او درغلي په پراخه کچه دود شول، ناامنۍ او بې ثباتۍ ښه په درز کې پراختیا وموند، د بېوزلۍ او بېکارۍ ستونزې په هېواد کې نه یوازې کمې نه شوې، بلکې لا یې پراختیا وموندې. هېوادوال د ولسمشر په تېرو دورو کې د هغو کلیشه یي شعارونو له مخې، چې ګواکې هېواد تازه له بحران او جګړو څخه راوتلی، له ولسمشر سره د ډېر حساب او کتاب لار ونه نېوله او دا تمه یې درلودله، چې خیر که نن نه، سبا خو به یو څه وشي او په همدې خاطر له سختو امنیتي او محیطي ستونزو او ګواښونو سره سره بیا هم زمري په نېر ولسمشریزو ټاکنو کې یې برخه واخیستله او د رایو صندوقونو ته لاړل او خپلې رایې وکارولې. په هر صورت، نور د ولس د صبر او زغم ډېوه مړاوې ښکاري، که په تېرو دورو کې ولسمشر او بهرنیو اړیوالانو یې هر څه وکړل، خو ولس له صبر او زغم څخه کار واخیست، افغانان د ولسمشر کرزي په تېرو دورو کې تر بېلابېلو نومونو او شعارونو لاندې وټکول، وځوروول او وځپل شول، خو بیا هم د هېواد د تېرو ناورینونو په پام کې نیولو سره هر څه یې په چوپه خوله او پټو سترګو پر ځان ومنل. خو ولسمشر باید پر دې پوه شي، چې تر دې وروسته به ولس هر څه ته په دقیق انداز متوجه وي، ولس به د ولسمشر هره خبره د عمل په تله تلي، کومې ویناوې او شعارونه چې ده د خپلو ټاکنیزو کمپاینونو په بهیر کې ولس ته یې اوروللي، د هغو عملي صحنه غواړي. نور د کورکورانه تقلید وخت پای ته رسېدلی. ولس د تېرو اتو کلونو په ترڅ کې د هرې لوبې او سیاسي ډرامې پر رمز او راز پوه شوی، نور به ډېره ګرانه وي، چې د خپلو سیاستوالو او چارواکو پر سیاسي موعظو او مداریتوبونو وغولېږي. د وروستي خبرې په توګه، ولس یوازې د خپلو چارواکو د کار او کارکولو په تمه دی، کومې ژمنې چې له دوی سره شوي، په عمل کې یې پلیتوب غواړي او بس، د همدې هیلې د پوره کېدو په تمه.

سال نیکو از بهارش پیداست؛ نخستین نشانه ها

با گذشت هر روز به تشکیل کابینه نزدیک می شویم و همپای آن شک و تردیدها در رابطه با ایجاد یک ادارهٔ سالم جان می گیرد. بسیاری ها بر اساس تجارب هشت سال گذشته، با ناامیدی به آینده می نگرند و برخی به فشارهای عوامل خارجی چشم امید بسته اند. نخستین ها این واقعیت را در نظردارند که عوامل بیرونی از زمرهٔ شرکای کمپنی سهامی اند که امروز به نام ادارهٔ فاسد نامیده می شود و این بار نیز تیم جدید با شیوه های جدید اداره و رهبری شرکت سهامی نوین را رهبری خواهد کرد. دومی ها فکر می کنند که ادارهٔ سالم تنها تحت فشار عناصر بیرونی ممکن می باشد. هردو نکتهٔ نظر عاری از حقیقت نیست و هردو فاقد سلامت کلی اند.

در حالی که تجارب هشت سال گذشته ناامید کننده می باشد، دلایلی برای امیدواری وجود دارد.

در این حقیقت که فساد پدیدهٔ منحصر به اداره های دولتی افغانستان نمی باشد، شکی وجود ندارد، مگر این نه به معنای این است که اگر دیگران فاسد اند، ما نمی توانیم فاسد نباشیم و نه هم موجب رفع یا تخفیف ملامتی جانب افغانی قضیه می گردد؛ زیرا هر فرد مسوولیت جوابگویی اعمال خود را خود بر عهده دارد.

این سوال که کیها عاملان و حاملان فساد اند و چگونه دستگاه را از وجود آنان می توان پاک کرد، به تشخیص عاملان و حاملان فساد بستگی دارد. درمان بیماری بدون تشخیص آن ممکن به نظر نمی آید. از عاملان منظور آنانی می باشند که در عمل موجب فساد می گردند و حاملان عبارت از زمینه هایی اند که فساد را ممکن می سازند. بدین ترتیب، افراد به حیث عوامل از طرزالعمل ها، مهارت ها، روابط اجتماعی، ابهام ها و کاستی ها در قوانین به حیث زمینه ها سود برده اعمالی را مرتکب می گردند که با نورم ها و ارزش های قبول شدهٔ (رسمی و غیررسمی) در تضاد قرار دارند. در یک عبارت فساد عبارت از انحراف از نورم ها و ارزش هایی قبول شده در جامعه می باشد. در زبان ساده، فساد را می توان رفتار نامناسب خواند.

دستگاه کنونی و هیأت رهبری کنونی، دیگر اعتماد مردم را از دست داده اند و نمایش استعداد و کارآیی وزرای موجود ممکن است، اعتماد از دست رفته را نتواند، اعاده کند. بنابرآن، سخن نخستین را باید در مورد رهبران آینده، شخصیت، استعداد، تخصص و وفاداری آنان به منافع ملی متمرکز ساخت. چگونه می توان به چنین افراد دست یافت و چگونه می توان در مورد آنان قضاوت کرد؟

تشکیل یک کابینه یا حکومت سالم با سه آزمون عمده رو به رو می باشد. چگونه ممکن است، در برابرانتخاب آنانی که برای این همه مصارف می پردازند، ایستاده گی کرد؟ برخی از به اصطلاح کارشناسان افغان به آنان حق انتخاب می دهند و این حق یا صلاحیت را ناشی از این حقیقت می دانند که این نیروها تمویل کننده گان برنامه ها اند. آزمون دوم ایتلاف نیروهای داخلی می باشد که پیروزی رییس جمهور به صورت قسمی نتیجهٔ همیاری آنان می باشد. چگونه می شود، خواست های آنان را در تشکیل ایلیت سیاسی آینده نادیده گرفت؟ آزمون سومی عبارت از خواست مردم می باشد که کارد برای آنها به استخوان رسیده و بر تیم گسترده یی که از هشت سال بدینسو به نوبه بر آنها حکومت کرده اند، دیگر اعتماد ندارد. بیهوده نگفته اند که " هرچه خام باشد، پخته می شود، آدمی که خام شد، پخته نمی شود".

محاسبهٔ این فشارها نشان می دهد که حکومت آینده این بار نیز محصول مصلحت و مصالحهٔ منافع گروپ حربی و بین المللی خواهد بود. خواست مردم که در این مذاکرات، نمایندهٔ مستقیم ندارد، از دور اعمال فشار خواهد کرد و تنها آینده در دست آنها قرار خواهد داشت. زیرا حکومت تشکیل خواهد شد و مانند گذشته تایید پارلمان را نیز بدست خواهد آورد، مگر باید مشروعیت خود را از مردم بدست آورد. در نهایت این اتباع افغانستان است که می توانند، بر اساس حکم خداوند (ج) با تغییر در نفس هاشان حالت شان را تغییر دهند.

از گذشته باید آموخت. رسانه ها می توانند و باید احتمالات را در اجندای بحث قرار دهند و در معرفی افراد شامل لست های احتمالی به مردم و مراجع تصمیم گیرنده مدد رسانند. بدین ترتیب، نه تنها دموکراسی بحیث رژیم مباحثه به مردم معرفی می گردد، بلکه فرهنگ تحلیل و ارزیابی جمعی ترویج می گردد و رهبران ادارهٔ عامه با درنظر داشت دیدگاه های مردم، برگزیده می شوند. کار دومی را باید با انجام آنچه ها آغاز نماییم که تغییر مثبت در کار روزانه را به مردم در عمل نشان دهد. چنین شیوهٔ کار صداقت رهبری را تبارز می دهد و به احیای اعتماد مردم کمک می رساند. تامین عدالت می تواند، آغاز مناسبی برای این کار باشد. اما آماده گی برای مراسم تحلیف رییس جمهور و معاونان مقام ریاست جمهوری و بیانیهٔ رییس جمهور پس از ادای سوگند وفاداری به دین، قانون و حاکمیت ملی، پیام های متضاد را به مردم انتقال دادند.

تدابیر امنیتی اتخاذ شده که سیاست امنیتی دوران حاکمیت حزب دموکراتیک خلق را تداعی می کرد، تنها ایلیت سیاسی را در نظرداشت و مانند سال هایی که گذشت در خدمت حاکمیت قرار داده شده بود. در شب ۲۸/۲۷ هزاران هموطن شامل زنان و کودکان در نتیجهٔ تدابیر امنیتی از رفتن به منازل مقصود بازداشته شدند. برای اولین بار قاطعیت در رعایت احکام امیر به نمایش گذاشته شد. این تدبیر نه تنها بار دیگر میان ایلیت و مردم خط فاصل ترسیم کرد، بلکه نشان داد، فراموش کردن زحمتکشان تا چه حد آسان است.

گفته اند " سال نیکو از بهارش پیداست" و امید است این بار چنین نباشد.

لنه سوم بحیث هشدار مبیین جمع اضداد است. حقب نشینی جامعهٔ جهانی از موضع پیشین در رابطه با مشارکت جنگسالاران در ایلیت سیاسی و ایستاده گی آقای رییس جمهور در برابر این خواست. ایالات متحده با حضور آقای مارشال در رهبری کشور مخالفت آشکار و صریح داشت و کای آیده نیز به نماینده گی جامعهٔ بین المللی اشارت هایی در این رابطه داشت. به این ترتیب، به رای ریخته شده در صندوق ها احترام گذاشته شد و از مداخله به حق خود ارادیت ملت افغان نیز، اجتناب شد.

سومین نشانه، عدم تشکیل محکمهٔ اختصاصی می باشد که به حیث تعلل در مبارزه علیه فساد دانسته می شود. این عبارت از تعلل در پیروزی حق بر باطل، تعلل در تامین عدالت و دادن فرصت به فساد و کمک به تداوم فساد است.

ص۳

اداري فساد او د چارواکو بې وزلي

اېمل خان

د امریکا د متحدو ایالاتو د بهرنیو چارو وزیره هېلري کلېنټن وایي، چې پر اداري فساد د تورنو افغان چارواکو په اړه باید یو خپلواک تحقیقاتي کمېسیون جوړ شي.

هېلري کلېنټن د جرمني له شپیګل مجلې سره په مرکه کې ویلي، چې موږ باید له افغان حکومته د ډېر شي غوښتنه وکړو، څکه زموږ د ملي امنیت ګټې دا ایجابوي، چې خپل شریک مو د افغانستان حکومت د ښې اداري کولو ژمنه پر ځای کړي.

خو فکر نه کوم چې کرزی لاادې دا وړې شړې کړي، ځکه چې ښاغلي د خپلو ټولټاکنو د کمپاین پرمهال داسې ګلونه کرلي، چې هغه به هېڅکله هم ونشي کولای، په هېواد کې د فساد ریښې وباسي، هغه په دې مانا چې نوموړي د هېواد لویو جګړه مارو لکه محقق، دوستم او نورو ته په خپله راتلونکې کابینه کې د ځای ورکولو ژمنې کړې دي او همدارنګه یې خپل مرستیالان هم هغه څېرې ټاکلې دي، چې هېڅ یو هېوادوال ورڅخه ښه خاطره نه لري، او په ښه نوم یې نه یادوي. ځکه چې هېوادوال تر اوسه پورې د دوی د راکټونو ښې پر خپلو دېوالونو باندې وینې.

په همدې اړه کلېنټن زیاته کړې، چې دغه خپلواک کمېسیون باید د دې ځواک ولري، چې د فاسدو چارواکو نومونه په ډاګه کړي.

هېلري کلېنټن وویل، امریکایي ځواکونه نیت نه لري، چې په افغانستان کې د اوږدې مودې لپاره پاتې شي، بلکې کله چې په دې هېواد کې القاعده ماته شي او داسې شرایط رامنځته شي، چې افغان حکومت په خپله له هېواد څخه د دفاع کولو جوګه شي، نو به دا ځواکونه له دې هېواده ووځي.

نوموړې ویلي چې افغان حکومت د خپل هېواد د دفاع کولو جوګه شي، نو که چېرې دوی پر افغانانو زړه سوی کوي، نو بیا ولې په پټو سترګو پرې بمباري کوي، ولې پلار د زوی په جرم بندي کوي، ولې په بیا بیا توګه ملکي افغانان ترورېستان او مخالفین بولي؟ دلته اوس هر افغان او هر نړۍ وال ته څرګنده شوې، چې دوی پر دې ځورېدلي ملت زړه سوی نه لري، بلکې لایې د تباهۍ لپاره هڅې کوي.

په همدې ډول فرانسپرېس اژانس هم په یوه څېړنیز مطلب کې دا مسله څېړلې، چې افغان ولسمشر ښایي له خپل حکومت څخه یو څه د اداري فساد جرړې وباسي، خو خپل حکومت له جګړه مارانو څخه نشي پاکولای.

د دې اژانس په وینا د افغانستان ولسمشر حامد کرزی ښایي ووایي، چې حکومت یې کولای شي اداري فساد له منځه یوسي او فاسد چارواکي له دندو لرې کړي، خو که نوموړي د دې ژمنه کوي چې له خپل حکومته به د جګړه مارانو جرړې باسي، نو به ونشي کولای چې دا ژمنه پوره کړای شي.

دا چې د یو هېواد اداره کمزورې وي او ملاتړ ته اړتیا ولري او دغه راز د ادارو واک یې هم پر جګړه مارو او زورواکو څرخي، نو کرزی چې د همدغو د قدرت د ملکانو په واسطه د جمهوري ریاست تر مانۍ پورې رسېدلی، نشي کولای د هغوی له شره ځان خلاص کړي.

لوېدیځ متحدین چې دې هېواد ته د وسلوالو طالبانو پر ضد د په زرګونو نورو سرتېرو د لېږلو په اړه غور کوي، او ورسره سم د دې جګړې پر ضد د کورنیو مخالفتونو د دفع کولو هڅه کوي، له افغان ولسمشر څخه د اداري فساد د له منځه وړلو او هم د فاسدو چارواکو د نیولو لپاره د کوټلو اقداماتو غوښتنه کوي.

خو فرانس پرېس لیکي دغه په اداري فساد ککړ چارواکي، هغه ځلک دي چې کولای شي کرزي ته په دویمه دوره کې چې د اسد د نهه ویشتمې نېټې په لانجمنو انتخاباتو کې یې د درغلۍ په خاطر اعتبار او حیثیت ته زیان رسېدلی، کورنۍ لویې ستونزې رامنځته کړي.

په پاریس کې د نړۍ والو مطالعاتو د تحقیقاتي مرکز څېړونکې مریم ابو زحاب وایي ښایي کرزی په محدود ډول اداري فساد له منځه یوسي ځکه ټول سیستم پر اداري فساد ولاړ دي.

کرزي د انتخاباتو د کمېسیون له خوا د جمهورریس په توګه تر اعلانېدو وروسته په لومړني خبري کنفرانس کې ژمنه وکړه، چې د اداري فساد تور داغ به ورکوي.

د امریکا د ولسمشر بارک اوباما په ګډون د نړۍ د یو شمېر مشرانو د فشار په پایله کې کرزي له

۳ مخ

اداري فساد او د چارواکو ...

امریکایي رسنیو سره په پرلپسې مرکو کې دا ومنله، چې په اداري فساد تورن چارواکي به له خپلو دندو لرې کوي.

کارپوهان دا چې، مشهور جګړه مار عبدالرشید دوستم تر انتخاباتو یوازې څو ورځې مخکې په دې موخه کابل ته ستون شو، څو خپل ازبک پلویان دې ته وهڅوي چې کرزي ته رایې ورکړي، یو شوم حرکت بولي.

دوی له دغه راتګ څخه داسې استنباط کوي، چې دوستم چې پر خپل سیال تر حملې وروسته ترکیې ته مهاجر کړای شوی و، ښایي په بدل کې ده او یا هم د ده نژدې ملاتړو ته د کرزي په راتلونکي دولت کې د دندو ورکولو ژمنه شوې وي.

لوېدیځ ډیپلوماتان وایي، ولې کرزي په زوره خلک خپلو ملکیتونو پلورلو ته اړ باسي، پر خصوصي سکتور باندې نفوذ لري او بله هم د نېشه یي توکو مسله ده، چې د اداري فساد اساس ګڼل کېږي.

د امریکا خبري رسنیو د جمهور ریس ورور د نېشه یي توکو په قاچاق کې په لاس لرلو تورن کړی، خو هغه دا تورونه ردوي.

له کرزي څخه نړۍ واله ټولنه غواړي، چې ټول جګړه مار او ټول په فساد کې ښکېل کسان له دولت څخه وباسي، او راتلونکې کابینه او د چارو واګې داسې کسانو ته وسپاري، چې په جګړو کې یې برخه نه وي اخیستې، دوی په هغه وخت کې چې کرزي خپل مرستیال قسیم فهیم وټاکه هم وغانده، او د کرزي دا اقدام یې خوښ نه کړ. په اوس وخت کې د افغانستان په دولت کې خپلوي پالنه ډېره ده او کارونه په کې د وفاداری پر اساس ورکول کېږي، چې لویه ستونزه هم په دولت کې خپلوی پالنې رامنځته کړې ده.

له بلې خوا که وګورو لکه څرنګه چې ولسمشر کرزي هم څرګنده کړه، چې بهرنیان په فساد رامنځته کولو کې لاس لري سمه ده، ځکه چې افغان دولت ته د بهرنیو مرستو یوازې په سلو کې د لس برخې لګولو حق ورکړل شوی دی، یاتې نورې ټولې پیسې په خپله د بهرنیانو له خوا لګول کېږي، چې دا هم د فساد په ډېرولو کې پراخه ونډه لري.

د فساد په ورکولو کې بله اساسي مسله د وزیرانو، والیانو او قوماندانانو د ټاکلو مسله ده، چې کرزی په پوره ډول نشي کولای هغه وټاکي، ځکه کله چې هر وزیر او یا والي ټاکل کېږي، ډېر بهرني دولتونه یې په اړه نظر لري او تر وروستۍ سلګۍ پورې هڅه کوي، چې پر افغان دولت خپله رایه ومني. اوس که چېرې پورته ستونزې اوارې شي، افغان چارواکي په پوره ډول د صلاحیت لرونکي وي د صلاحیت له پلوه بې وزله نه وي، په خپله به د فساد جړې وایستل شي او د تل لپاره به دې ستونزې د پای ټکی کېښوول شي.

زمزمه‌های عقب‌نشینی بریتانیا ...

خروج نظامیان خارجی از بعضی مناطق افغانستان تهیه کنند، تا به گفتهٔ وی مسوولیت کنترول امنیت افغانستان "محله به محله" به نیروهای افغان منتقل شود.

صدراعظم بریتانیا گفت: در این کنفرانس باید روندی برای واگذاری منطقه به منطقه کنترول امنیتی به نیروهای افغان مطرح شود و درصورت امکان چارچوب زمانی برای آن شکل گیرد که بتواند، از اوایل ۲۰۱۰ آغاز شود.

بسیاری، هدف این اظهارات براون را کم کردن فشارهای سیاسی بر دولت وی می‌دانند. در حالی که تلفات نیروهای بریتانیایی در ماه‌های اخیر افزایش یافته، صدراعظم بریتانیا در تلاش است، با اعلام خروج از افغانستان این وعده را به بریتانیایی‌ها بدهد که جنگ در افغانستان نبردی بدون پایان نخواهد بود. وی تاکید کرد که بریتانیا از اعزام ۵۰۰ سرباز دیگر به افغانستان به‌دلیل اینکه شرایط فرستادن آنها مهیا نیست، منصرف شده است.

به همین خاطر، براون ۲۶ عقرب برای دفاع از ۸ سال حضور نظامیان این کشور در افغانستان اعلام کرد که نیروهای خارجی در افغانستان درحال بر هم زدن و ناتوان کردن رهبری القاعده هستند.

وی گفت: در سال جاری موفقیت‌های بیشتری در جهت ناتوان ساختن القاعده نسبت به سال‌های دیگر به‌دست آمده است. براون افزود: ما در افغانستان هستیم، چون اعتقاد داریم اگر طالبان دوباره قدرت را در دست بگیرد، القاعده و سایر گروه‌های تروریستی می‌توانند دوباره به فضایی برای انجام عملیات‌های خود دست پیدا می‌کنند.

این در حالی است که دفتر صدراعظم بریتانیا با جنجالی شدن اظهارات او دربارهٔ آغاز خروج نظامیان این کشور از سال ۲۰۱۰ در بیانیه‌یی اعلام کرد که نشست ماه جنوری برای خروج کامل از افغانستان نیست و تنها فرصتی برای تبادل نظر رهبران کشورهای مختلف دربارهٔ آینده افغانستان به حساب می‌آید.

بسیاری عقیده دارند که براون با صحبت‌های خود تلاش کرده است که جلوی حمایت بیشتر از پیشنهاد مخالفان دولت خود را برای خروج از افغانستان بگیرد. وی در سخنرانی خود اعلام کرد که نیروهای بریتانیا تنها زمانی که افغان‌ها خودشان بتوانند، کنترول کامل امنیت کشورشان را در دست گیرند و نگذارند که اعضای گروه القاعده در افغانستان فعال باشند، از این کشور خارج خواهند شد.

این در حالی است که آندرس فوگ راسموسن، منشی عمومی ناتو هم روز گذشته اعلام کرد که سال آینده، ناتو می‌تواند کنترول امنیتی برخی مناطق را به نیروهای افغان واگذار کند و این امکان فراهم شود که نیروهای تحت امر ناتو به‌تدریج به سمت ماموریت حمایتی پیش روند.

وی با اشاره به اینکه در سال ۲۰۱۰ ماموریت نیروهای خارجی در افغانستان شتاب بیشتری خواهد گرفت، تاکید کرد: ناتو خروج از بخش‌هایی از خاک افغانستان را جزء اهداف آیندهٔ خود در مورد این کشور قرار داده است. راسموسن گفت: این مسأله‌یی واقع‌بینانه است که روند واگذاری مسوولیت امنیتی بخش‌هایی از افغانستان را در سال ۲۰۱۰ آغاز کنیم.

وی با وجود این خروج فوری از افغانستان را رد و اعلام کرد: اگر ما بخواهیم خارج شویم و به افغانستان پشت کنیم القاعده فورا به این کشور باز خواهد گشت.

در حالی که اعتراض به مصارف ادامهٔ حضور نیروهای کشورهای اروپایی در شرایط بحران اقتصادی، رهبران برخی کشورهای عضو ناتو را گیج کرده است، راسموسن اعلام کرد: نگرانی‌های مردم دربارهٔ این مصارف را درک می‌کند، اما مردم باید بدانند که خروج از افغانستان هزینهٔ بیشتری برای آنها خواهد داشت.

اعضای ناتو در حالی به‌زودی برای تعیین جدول خروج از افغانستان تشکیل جلسه می‌دهند که بارک اوباما رییس جمهور امریکا همچنان در حال سبک و سنگین کردن گزینه‌های مختلف دربارهٔ استراتیژی جدید واشنگتن در افغانستان است.

در حالی که براون و دیگر اعضای ناتو در فکر خروج تدریجی نیروهای خود هستند بعید به‌نظر می‌رسد که اوباما روی گزینهٔ فرستادن ۱۰ تا ۴۰ هزار نیروی نظامی بیشتر به افغانستان، تکیه کند.

زندان پروان؛ برای ...

دیگر، اتاق های بزرگی قرار دارد که در آن، ۲۰ زندانی در یک اتاق زندانی می باشند و فقط سه کمود و دستشویی در آن تعبیه شده و این کمودها پشت پرده یی موقعیت دارند که باید بسیار آزار دهنده باشد. اینکه این زندانی بعد از طی چه پروسهٔ می تواند وارد این اتاق گردد، بازهم روشن نیست و این مربوط زندانبانان است که با شرایط خاص خود و تصمیم خود این پروسه را به پیش ببرند. بلاک های دیگر این زندان بنا به دلایل نامعلومی به خبرنگاران نشان داده نشد.

ساختن زندان به وسیلهٔ امریکاییان د رخاک افغانستان و بدون اینکه مقام های دولت افغانستان کوچکترین دسترسی به کار و فعالیت آن داشته باشند و در آن اتباع افغانستان زندانی و بعد سرنوشت و شیوهٔ کار زندان مشخص نباشد، از روز اعلان ساخته شدن این زندان تا حال پرسش های بسیاری را نزد مردم افغانستان به وجود آورده و این را باید مقام های دولت افغانستان توضیح بدهند که بالاخره این دولت در روزگار کنونی چه نقشی در حاکمیت افغان ها داشته می تواند و حقوقدانان این را از نظر حقوقی روشن بسازند که آیا با تمام ادعاهای امریکاییان بازهم حق قانونی برای شان در ساختن چنین زندانی محفوظ می باشد و این را چگونه توجیه می کنند؟

این زندان را زندان پروان نام نهاده اند و گفته شد که برای زندانیان آموزش حرفه های برای تجدید تربیت نیز مدنظر گرفته می شود. اینکه واقعا با چنین شرایطی زندانیان این زندان تمایل به آموزش حرفه یی از خود نشان خواهند داد یا نه بازهم باید در عمل دیده شود. چون این مهم است که دستگیری بر چه اصلی صورت می گیرد و رویهٔ زندانبانان با زندانیان چگونه خواهد بود. قفس های ساخته شده که با جالی چهار طرف شان پیچیده شده اند، با نور شدیدی روشن نگهداشته می شود و پهره داران از بالای قفسه ها و پیشروی آن می توانند، تمام حرکات زندانیان را نظارت کنند، بگذریم از اینکه کمره های قوی در درون و بیرون این زندان نصب شده است که از طریق مدار بسته نیز هم چیز در داخل و بیرون زندان کنترول می گردد. برای این زندانبانان محلی برای سپورت و اتاقکی به نام کتابخانه نیز مدنظر گرفته شده است. اینکه در عمل از اینجاها چگونه استفاده خواهد شد، در عمل دیده خواهد شد. در شرایط کنونی در افغانستان ۳۵ هزار زندانی وجود دارد که ۱۴۰۰ تن آ نها در زندان بگرام نزد امریکاییان زندانی می باشند و اینکه تا آخر ظرفیت این زندان همان ۱۱۰۰ نفر حفظ خواهد شد و یا تعداد زندانی در این زندان بسیار بالا خواهد رفت، بازهم باید در آینده دیده شود.

نگارنده: دکتوراندس م. نبی هیکل

سال نیکو از بهارش پیداست؛ نخستین ...

از سوی دیگر، بیانیهٔ رییس جمهور امیدوارکننده بود. ناظران تدابیر امنیتی و شنونده گان مراسم تحلیف هردو تنها یک محک را برای قضاوت دارند، تا در مورد" یک بام و دو هوا" یعنی نشانه های بهار سال های نیکو و ریتوریک و سمبولیک مراسم تحلیف به قضاوت بپردازند.

اقدام سومی: قوانین در افغانستان دشواری هایی دارد که به اعمال فساد فرصت می دهد و مهمترین آنها را می توان زیر عناوین ابهام، سکوت قانونگذار در برخی از موارد، فقدان صراحت احکام قانون و تناقضات در احکام قانونی خلاصه نمود. به میکانیزم های نظارت از تطبیق قانون، تعبیر و تفسیر قانون و احترام به نورم های اساسی در تصمیم گیری باید نیز، توجه به عمل آید.

برای ایجاد یک حکومت سالم هم، عاملان و هم حاملان را باید تغییر داد.

این مسأله به سوال آینده بستگی دارد که چه زمانی یک فرد به حیث عامل فساد به فساد دست می زند؟ از مباحثات تلویزیون برمی آید که برخی فساد را به فقر ارتباط می دهند، در حالی که چنین نتیجه گیری، تفکر ساده لوحانه یی بیش نیست. این شیوهٔ تفکر که نتیجهٔ تعمیم نتییجه گیری ناسالم است، به این باورمندی منتهی می گردد که فقیران فاسد و اغنیا غیرفاسد اند. به باور نگارنده، فساد مختص به موقف طبقاتی نیست، زیرا از یک سو افراد فاسد در همهٔ سطوح طبقاتی وجود دارند و دوم اکثریت فقیر و اقلیت در هر جامعه، غنی است، در حالی که فساد در اقشار بالایی بیشتر وجود دارد. مختص ساختن فساد به فقیر بودن در عین حال انکار این حقیقت است که فقیر پاک نفس نیز وجود دارد. فساد به وجدان انسان و به درجهٔ نورم پذیری وی تعلق دارد. برای برخی خودش در اولویت قرار دارد و برای برخی دیگری هم خودش و هم دیگران و باز برای دستهٔ سومی دیگران در اولویت قرار دارند.

در حالتی که وجدان خوابیده است، نورم جامعهٔ انسانی جای خود را به نورم جنگل واگذاشته و یک حالت شبیه حالت کمون اولیه یا ماقبل آن حاکم باشد، ترس از یک نیرو می تواند از ارتکاب فساد جلوگیری نماید. ترس از خداوند و از روز جزا برای مسلمان باید بسنده باشد. حکومت ها مرجع دیگری اند که وظیفه دارند، با وضع تعزیرات و تطبیق آنها، از فساد جلوگیری نمایند.

تبریه فساد به این یا آن عنوان مانند فقر و بیچاره گی یا کمی معاش به معنای تشویق و ترویج آن است که مقام های عالیرتبهٔ حکومتی از دیر زمان برای تبریهٔ ناکامی ادارهٔ خود عنوان کرده اند. حال اگر این درست باشد که مامور فقیر به دلیل نارسایی معاش رشوه می گیرد و به انحراف از قانون دست می یازد، اعمال وزیر فاسد را چگون می توان توجیه نمود؟ چرا کار وزرا و مقام های حکومت در هشت سال گذشته به پاکی وزارتخانه های مربوطه از فساد منجر نگردید؟ هیچ ساده لوحی این پاسخ را که ماموران فقیر وزیر یا رییس مربوطه را آغشته به فساد ساخته اند، نخواهد پذیرفت. حقیقت این است که فساد به نیروی محرکهٔ ماشین حکومتی تبدیل شده بود، جایی که عرصه برای افراد پاک و صادق هر روز تنگ و تنگتر می گردد، ماشینی که تنها به نفع زورمندان و سرمایه فعالیت می نماید.

افزایش فشار بر افغانستان برای مبارزه با فساد اداری ...

کابینه‌اش به جنگسالاران سابق جا ندهد.

بارک اوباما ـ رییس جمهور امریکا ـ که در حال حاضر سرگرم بررسی موضوع فرستادن ۴۰ هزار عسکر بیشتر به افغانستان است، نیز در بارهٔ ضرورت مبارزه با فساد در این کشور صحبت کرده است. هیلری کلنتن ـ وزیر امور خارجهٔ امریکا ـ هم پس از مراسم تحلیف حامد کرزی، اظهارات مشابهی داشت.

این اظهارات در حالی صورت می‌گیرد که گزارش جدید سازمان بین‌المللی شفافیت افغانستان را از بین همه کشورهایی ارزیابی شده در رتبهٔ دومین کشور فاسد قرار داده است و بر گسترده گی فساد اداری و سیاسی در این کشور مهر تایید می‌نهد. در گزارش سال ۲۰۰۹ این سازمان که به بررسی میزان فساد در کشورهای جهان می‌پردازد، افغانستان با کسب رتبهٔ ۱۷۹ فقط یک رتبه از ۱۸۰ کشوری که مورد ارزیابی قرار گرفته بودند، پایین‌تر قرار داشت.

بر اساس گزارش گروه شفافیت بین‌المللی، فقط سومالیا که کشوری جنگ زده است، فاسدتر از افغانستان بوده است.

طالبانو او حزب اسلامي پر سیاف د چاودنې مسوولیت ...

خو د سیف الدین په نامه یو تن چې خپل ځان د پغمان د مجاهدینو د ډلې استازی معرفي کوي، وویل چې دغه ماین د یادې شوې ډلې لخوا ځای پرځای شوی و.

نوموړي وویل چې یاده شوې ډله له طالبانو او اسلامي حزب سره تړاو نه لري، خو له هغوی سره مخالفت هم نه لري.

نوموړي ادعا وکړه، چې په چاودنه کې سیاف هم ټپي شوی دی.

همدارنګه د پغمان امنیه قوماندان سمونوال حاجي محمد رازق، د سیاف د موټرو پر کاروان د برید د پلان په تور، د یوه کس د نیولو خبر ورکړ.

نوموړي وویل چې دغه کس توریالی نومېږي او د پغمان اوسېدونکی دی، نوموړی رسماً د کابل زون د جنایي تحقیقاتو ریاست ته سپارل شوی او اوس مهال تر پلټنو لاندې دی.

همدارنګه د کابل زون د جنایي تحقیقاتو ریاست خبر ورکړ، چې د دغې پېښې په تړاو یې دوه تنه نور هم نیولي دي.

دغه ریاست د دغو دوو نیول شویو کسانو د هویت په اړه څه ونه ویل، خو ادعا یې وکړه، چې نیول شوي کسان ترهګر دي.

عبدالرب رسول سیاف، د اتحاد اسلامي جهادي ګوند پخوانی او د دعوت اسلامي ګوند اوسنی رهبر او په ولسي جرګه کې د خلکو استازی دی.

موږ به هم د فساد په مخنیوي کې خپله ونډه ...

پکې دخیل دي.

ځینې ځارونکي وایي، چې ډېرې لویې غلاوې بهرنیو شرکتونو او موسسو کړي او د خپلو لویو غلاوو تصدیق یې په لږو پیسو له افغان چارواکو اخیستی دی.

میلبند: که نړۍ وال ځواکونه نه وي، د کابل حکومت...

ښاغلي میلبند څرګنده کړه، چې په افغانستان کې زموږ د ځواکونو پاتېدل د یوه هدف لپاره دي، د یوه وخت لپاره دي او د یوه پرمختګ په هیله دي، چې دا هدف اسانه نه دی اما واضح دی. له دوه زره لومړي میلادي کال راهیسې په افغانستان کې تر دوه سوه دېرش ډېر بریتانیایي عسکر وژل شوي دي او له دې تلفاتو سره ورځ په ورځ په برېتانیا کې د افغانستان له پوځي ماموریت سره مخالفتونه زیاتېږي. خو ډوید میلبند وویل، موږ غواړو چې خپلو خلکو ته دا واضح کړو، چې په افغانستان کې زموږ پاتېدل ګرانه پرېوځي، خو که چېرې ترې ووځي، بیا به هغه بیه تر دې هم لوړه وي.

د راتلونکي نظام په اړه،

ولسمشر ته څو مشورې!



عزتمنده ولسمشره! بلاخره بیا هم ولسمشر شوې، ته به خبر وې چې ځینې منتقدین او هغه بهرني یاران دې، چې ته یې په متو پر دغه ولس راج چلوې، ستا حکومت تر ټولو فاسد حکومت بولي، او هره سروې چې د فساد لړلو دولتونو په اړه تر اوسه په نړۍ کې تر سره کېږي، ستا هېواد په کې لومړی پوزیشن ګټي. تېر کال به خبر شوی وې، چې په نړۍ کې افغانستان د فساد دویم نمبر پوزیشن خپل کړ. په دې به دې هم سرخلاص وې، چې له ځینو لاسته راوړنو پرته، ته په ډېرو برخو کې ناکام وې، دا به زه درپه یاد کړم، چې جنګسالاران لکه له ببخه نړېدلي نیالګي نور په وچېدو وو، چې ستا په حکومت کې بیا لکه نوي نیالګي چې له اته کاله وروسته بېرته له تېرو دېرش کلونو جنایتونو سره چهل مېتره چنارونه شول او له هېچا یې اوس سترګه نه کېږي، او حتا لګیا دي، د مجاهد او بل په نوم لا خپل ځان په حکومت کې نه ویني او ګیلې یې تر اسمانه رسي، چې موږ له حکومت نه شرل شوي یو! د نشه یي توکو تجارت خو هغه دی، چې د همدغه منحوسو څېرو د بقا له برکته سږ کال ۳۰ سلنه نور هم پسې لوړ شوی دی، اداري فساد خو ته وینې. ګرانه ولسمشره چې د نړۍ مطبوعاتو ته دې سمې سوژې ورکړې او در څخه مشکوره دي او زوږ یې ټوله نړۍ اوري. تر ټولو جالبه دا چې هغه هلمندیان او اروزګانیان چې ته یې وساتلې او ته یې په لومړیو کې په پښو ودرولې، او تا ورته هغه وخت ویل چې دا څلي به د نیویارک په څلیو درته بدل کړم، خو نن ستا د هماغه له نیویارک نه راغلیو او خړو الوتکو تر بمبار لاندې دل کېږي، ولسمشره! شمېر به یې تاته معلوم وي، خو خیر، یو وخت به دا لېست هم راووځي. د شینډنډ او شاولیکوټ درنې او وحشي بېلګې هغه ترخه حقیقترنه دي، چې د تا سترګې یې هم هغه مهال درلندې کړې او اوښکې دې ورته تم نه شوې. ولسمشره د هغه مخور مظلوم شینډنډي خبرې به دې نه وي هېرې او ښایي که ته زما دغه جمله ولولې، بیا دې هم اوښکې په سترګو کې ورته تم نشي، چې ویل یې: «میرمنه نه ده راپاتې چې ډوډۍ راپخه کړي او په کورونو کې مو ماشوم نه دی پاتې چې مینه پرې ماته کړو.»

نو د دې مظلوم ملت مظلومه ولسمشره! موږ پوهېږو چې زموږ په شان ته هم مظلوم یې او له سلو لوریو درباندې فشار وي، چې دا وکړه او دا مه کړه، خو د خدای په لحاظ، تر کومه دې چې وس دی خپل وس له دې ولس نه مه دریغوه او دا خبرې مو درسره په ذهن کې ساته. که چېرې درپه کار شوې جنګسالاران دې له حکومت نه په یوه نوم نه یو نوم جارو کړه، ځان له دې سرطان نه پاک کړه. که نه په نه رغېدونکې ناروغۍ به دې اخته کړي، که اخر نه وي پیسې ورکړه اومتقاعد یې کړه، دوی د پیسو او هوس لېونیان وو او دي، چې د کابل په کوڅو کې یې د مظلوم کابل وینې دېرش کاله د خپل هوس دریابونو ته لیلام کړې، نو که دې وس رسي دا ولس یې له پنجو خلاص کړه او د پیسو په زور قناعت ورکړه او که په دې هم نه کښېني، نو په زغرده ورته ووایه چې ولس مو نه غواړي، ولي یې په سترګو کې ورننوځئ!!

د نشه یي توکو د تجارت په اړه دې ستراتیژي له کورنۍ نه نیولې، بیا د هلمند په دښتو کې د تریاکو تر پرتو فابریکو پورې شفافه کړه، ته خبر یې چې ستا ورور هم پکې لړلی دی او دا خبره تر اوسه ګونګه ده، ولس ته په دې اړه هم قناعت ورکړه. هلمند د معاملو د بازار په ځای، د تعلیم او پوهې بازار وګرځوه، که نه څو کاله وروسته به دې د هلمند ځوانان ستا د غاړې طوق وي، چې خپلې ځوانې دنګې ځوانۍ د زهرو غوټیو ته قربانۍ کوي. نور په دې اړه له تشریفاتو او کلیشو تېر شه، والله که سمه ملا ورته وتړې، نو د ملاعمر په شان یې په دوه ګوتو فرمان د افغانستان له هره ګوټه دا د زهرو بوټی ورک کولی شې، خو موږ پوه یو چې تر کاسې لاندې نیم کاسه شته.

بهرني یاران دې دا ځل سم پوه کړه او په ژړاوو نه کېږي، که ته وژاړې نو د ولس زړونه به نور هم له درده دوه پړقه شي، چې ولسمشر مو ژاړي، نو موږ به څه کوو. دلته همت په کار دی او سمه لاره یې ورمعلومه کړه، چې په دې لار به ځئ او په دې نه. که داسې ګونګې تګلارې او د یو بل په سترګو کې ورختل نه وي او د لحاظ خبره وي، نو ولس دې خدای مل شي او ایله ستاسو د تشریفاتي الوتکو خوراک شي. ولسمشره! که دوی نشې خفه کولی چې د قدرت په ګدۍ یې کښېنولی یې، نو د هغه شینډنډي هغه ترخې او له درد ډکې خبرې هم واوره، چې که له چا سره د انسان زړه وي، او خبرې یې واوي، نو په کرېږو او چیغو به یې تر ډېره زړه ورته اوښکې تویوي. ولسمشره، ستا د بدبخته افغان ځوانانو د ناوې او د واده مراسم هم د غم او وهم مراسم وي، ته خبر شوې چې تېر کال په ننګرهار کې ستا افغان ځوان د خپل عمر تر ټولو د خوښۍ په ډکه شپه ستا د بشر د علمبردارانو له لوري د تنکۍ ځوانۍ په تاند پسرلي کې شهید شو.

بله خبره چې ته یې تر غوږونو په فشار کې ډوب کړې یې، د اداري فساد خبره ده چې اوس بېخي لنګون ته رسېدلې ده، دا نوی افت دی، بس یا به ته ډېر بدبخته وې یا به دې په ولس خدای ښه ورځ نه وي لورولې، چې هره بدبختي زموږ په برخه او نصیب ده. نو قوي او متعهد او وطنپرسته ځوانان او بړیڅې دې په ټیم کې داخل کړه، د شهید داوود خان په شان د دې وطن د لوېشتې لوېشتې خاورې دفاع ته مټې رابډوهه. قسم په هغه ذات چې ستا پاچاهي تر ننه په دې کږو وږو ستنو بیا هم درولې ده، چې د تندي کرښې به دې هم ستا په همت افرینې او ستا د صداقت او وطندوستۍ شاهدي او ګواهي ورکوي. نن چې د تاریخ لمنې ته څوک سر وردننه کوي، نو له وطن سره د بې شانه مینې له امله د شهید د داوود خان باب ته چې رسي، نو بې واکه یې له سترګو د اوښکو لیکې راوبهېږي. ښایي تاریخ به هم په داسې حماسي څېرو ویاړي چې په خپله لمنه کې یې ساتلي دي. نو، ولسمشره! له پردیو سره دومره له حده زیاته مینه، چې د خپل هېواد بچي پرې تورو خاورو خوراک شي او هغوی د ناامیندۍ له لاسه بېرته ستا مقابل ته ودري او ستا ټنډه د خپل ټوپک ټښه ګرځوي، دا به هم د تاریخ له قضاوته سره سمه او خبره نه وي. قدرمنه ولسمشره! ستا د جنوبي میندو زامن اوس هم له خپلو میندو نه کلونه کلونه ورک دي او دوی یې په غم کې خپل د سترګو دید له لاسه ورکړي او اوس هم د خپلو زړونو په ټوټو پسې لاسونه موښي، نو د هغه میندو درد هم په خپل وجود حس کړه، چې څو ځله تا جنوب ته سفر کړی، دغه میندې دې په تظاهري توګه مخې راغلې او په چیغو چیغو یې د خپلو ورکو اولادونو درکونه درنه غوښتي دي، هغه چې ستا د راتګ نه څه موده وړاندې د مزار او فاریاب او جوزجان په ځمکو کې د امریکایي بمونو تر امبارونو امبارونو خاورو لاندې شول او یا ستا د یارانو له لوري وربانديې په کانټینرونو کې اور بل شو، خو میندې یې اوس هم د راتګ په هیله شپې تیروي، چې زوی به یې راشي. ته به خبر وې چې دا به ډېره زړه لړزوونکې خبره وي، چې ستا نیم زابلي ځوانان اوس هم د شمال یا مزار او فاریاب او تخار ولایتونو په دښتو کې د مرګ په خوب ویده دي، خو میندې یې اوس هم راتګ ته لار څاري. ولسمشره په دې ډول وحشي وژنو دې په بدن کې د درد او غم لیکې نه ځغلي؟؟ دغه میندې اوس هم ستا یوه تاریخي عدالت ته لار څاري، خو...

ولسمشره یوې بلې خبرې ته دې هم پام لره، ته ښایي د پاچاهۍ هوس دومره په احساساتو کې ډوب کړی وې، چې خپل عدل او ناعدالتي به نشې درک کولای، خو پام چې داسې بېلګې هم شته، چې ځینې د محکومیت له لاسه د مرګ تر پولې هم اخوا دي، خو ځینې بیا له نشت اهلیتونو سره سره، دې د سر تاج ګرځولې دي. موږ له تانه د نورو د حقوقو د خوړولو هیله او غوښتنه نه لرو، خو داسې هم نه چې زموږ حقوق پر نورو وپلورل شي. ته خبر یې چې د بهرنیو چارو په وزارت کې دې دا اته کاله څه روان وو، دغه وزارت یو سرنوشت ساز دی، چې په بهر کې د تا او د ټول هېواد استازیتوب کوي، خو ستا سفیران داسې کسان وو، چې ستا ولس او قام یې ټولې نړۍ ته تروریزم ورپېژانده. ستا او د هغوی خبرې له یو بل سره دومره واټن لري لکه .... د دغه وزارت د تشکیلاتو بې عدالتي به نه یادوم، چې د کابل پوهنتون نوي فارغ شوي ځوانان په کې په یوه ورځ سفیران شول!! ستا وزارتونه باید د ملي وحدت یوه نمونه وي.

نو درنه ولسمشره! پر دې ترخو واقعیتونو خوا مه بده وه. د جنګسالارنو خبره، د یارانو او بهرنیو میلمنو! رندې بمباری، او ستا ولس یې له وژنې ژغورل، د نشه یي توکو تجارت او په دې اړه ګونګه معما او په نطفه کې راټوکېدونکی سرطان یانې اداري فساد او اجتماعي عدالت، هغه څه دي چې ستا د پنځو کلونو ناکامې او کامیابي، یا په تاریخ کې سرلوړې او یا په تاریخ کې د تور قضاوت تورې پاڼې به جوړوي. دا به د تاریخ په غېږه کې د تل لپاره پاتې وي، که یې منې ښه به وي، که نه کوم باك نشته، ځکه چې دا اته کال تېر شول نو دا پنځه نور به هم تېر شي، خو د ولس په زړه به دا د تاریخ تور داغ او ناسور ټپ همداسې ژوندی او د ودې په حال کې پاتې وي.

ضروري تصحیح

د ارادې ورځپاڼې د نوامبر له ۹ مې ګڼې تر پرونۍ ګڼې پورې د چاپي تېروتنې له امله د دغې ورځپاڼې نشراتي دور، درېیمه دوره لیکل شوې، هیله ده، درانه لوستونکي یاده شوې تېروتنه پر دویم دور تصحیح کړي.

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com